# د سینګار او دارويي موادو د سټنډرډ د تدوین تخنیکي کمېټه TC-4

## تاریخچه

د سینګار او دارويي موادو د سټنډرډ د تدوین تخنیکي کمېټه په (۱۳۸۹هـ ش) کال د سټنډرډونو د تدوین او ساختماني ملي کوډونو د ریاست په چوکاټ کې ایجاد او په فعالیت یې پیل وکړ. دې کمېټې تر دې مهاله (۷۳) سټنډرډونه تدوین او نهايي کړي دي چې د سټنډرډ عالي شورا تر تصویب وروسته د ملي سټنډرډونو په توګه منظور شول.

## ټولیز فعالیتونه

- د (۱۲۰) تخنیکي غونډو جوړول
- د سټنډرډ عالي شورا له لوري د (۸۰) سټنډرډونو تصویب
- د سارک سازمان له سیمییزو سټنډرډونو سره د څلورو سټنډرډونو برابروالی
- د کمېټې په وسیله د سینګار او دارويي موادو د (۶) سټنډرډونو نهايي کول او د سټنډرډ عالي شورا ته د وړاندې کولو په موخه د هغو چمتو کول.

## په کمېټه کې مرستندویه بنسټونه

- د عامې روغتیا وزارت د کمېټې د رییس په توګه
- د دارويي او روغتیايي موادو د کیفیت د کنټرول لابراتوار د غړي په توګه
- د درملو او طبي محصولاتو د چارو د تنظیم اداره د غړي په توګه
- علومو اکاډمي د غړي په توګه
- د کابل پوهنتون د فارمسۍ پوهنځي ریاست د غړي په توګه
- د افغانستان د دارويي خدمتونو ټولنه د غړي په توګه
- د افغانستان د فارمسسانو ټولنه د غړي په توګه
- د روغتیا لپاره د علومو اکاډمي اداره د غړي په توګه
- د کابل پولتخنیک پوهنتون د غړي په توګه
- د سټنډرډ ملي اداره د سکرتر په توګه

## ټولیزې دندې

- د اړتیا وړ سټنډرډونو ته لومړیتوب ورکول
- د سټنډرډ د مسودې د تدوین لپاره د موادو د راټولولو او اقتباس په موخه د اړتیا وړ سرچینو ټاکل او چمتووالی
- د کمېټې د کاري پلان جوړول
- د کمېټو تنظیمول او جوړول
- د سینګار او دارویي موادو کمېټو ته د سیمییزو او نړیوال سټنډرډونو ژباړه او چمتووالی
- تر کار لاندې سټنډرډونو د مسودې نهایي کول
- د نهایي سټنډرډونو فارمټ او تصحیح کول